## ظاهر

هغه لفظ یا کلام ته ویل کېږي چې د هغې مطلب اوریدونکی ته له صیغې څخه معلومېږي پداسې حال کې چې د مطلب ښکاره والې پټ او مشکل وي تفکر او تأویل ته ضرورت ولري. دری: [ظاهر]

## ظاهري اراده

هغه اراده ده چې په عملي توګه څرګندیږي.
دری:[ارادهٔ ظاهری]

## ظاهري مجازات

ځورول، رعب او ویره چی د جرم د اجرا له کبله د مجرمینو او د ټولنې د وګړو په ذهن کې جوړیږي.
دری: [مجازات ظاهری]

## ظهار

هغه قول (وینا) دی چې مېړه خپله ښځه د خپلو محارمو څخه کوم یو ته تشبیه کړي. دری:[ظهار]

## ظهر لیکنه

هغه عمل دی چه د مرتبه سند لرونکی د سند په شاباندې پخپله امضاء اجازه ورکوي چې مندرجه وجه بل شخص ته ولیږدول شي. دری: [ظهر نویسی]